






# مجیب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 30 اکتوبر 2015 م

# افسانه

پــه يو نظر يې ديوانه غونـدی شوم
هم يې دمينی پروانه غوندی شوم

د سترګو غشو يې سوری سوری کړم
زه يې د غشو نښانه غونـدی شــوم

زما دکيسي بازار دنيا کې تود شو
زه يی دميني افسانه غوندی شوم

زمـــا دزړه زيـــارت نـــه ميـنه لاړه
خالي بی بته بتخانه غوندی شوم

نور به می يار له ميني نه مستيږي
جام نه توی شوی پيمانه غوندی شوم

جام کی می خيال د ميني می کړی و
زه بی خــبره مستانه غـوندی شــوم

***

مجیب الرحمن « خطیبي »

www.said-afghani.org - بازګشت به صفحه اصلی